بریښنايي کتاب

# شهید
# محمد موسی شفیق

" ژوند لیک "




لیکوال: اجمل جلالي

د کتاب په بڼه ترتیب کوونکي : عبدالرحمن اکبري

ډالۍ !

" د شهید پاکي اروا ته چې د افغانستان د سوکالۍ


او ابادۍ ارمانجن وو "



عبدالرحمن اکبري

# شهید موسی شفیق؛ عالم، ادیب او سیاستوال

1



**ډېر تفاوت شته په انسان کې د معنا په لحاظ**
**واړه مشغول دي ځیني ځان ځیني جهان جوړوي**

*(استاد الفت)*

ستر شخصیتونه پر بشري ټولنو د الله تعالی له سترو لورېینو څخه ګڼل کېږي. دغه ډول څېرې په ټولنه کې د سترو کارنامو سبب کېږي. متمدن ملتونه د خپلو نامتو څېرو د زېږېدو په ویاړ ځانګړي مراسم ترتیبوي. د هغوی په نامه مختلف مډالونه نوموي یا ستر تاسیسات د هغوی په نامه

کوي. د نولسمې پېړۍ ستر مفکر، علامه سید جمال الدین افغان وایي : شرقیان د ژوندیو قدر نه کوي، ولې کله چې مړه شي بیا یې تل ستایي. د علامه دا خبره، د ده په حق کې تر یو حده صدق کوي؛ ځکه د ده تر مړینې وروسته څه نا څه قدر وشو. لیکن، د علامه وطنوال ژوندي خو لا څه، چې د مړو یاد هم نه کوي.

2

زموږ د هېواد یو له دغو هېرو سټو د ډموکراسۍ د لسیزې وروستی لومړی وزیر، شهید محمد موسی شفیق دی. شهید شفیق، زموږ د هېواد د معاصر تاریخ په حساس وخت کې په ګڼو لوړو دولتي پوسټونو کې دندې ترسره کړي دي. د شهید شفیق دندې، د کابل پوهنتون له استاذۍ پیل او په لومړي وزیرۍ پای ته رسېدلي دي. د شهید د سټې ځانګړنه دا ده، چې دی، نه یوازې سیاسي رهبر پاتې شوی، بلکې شفیق له سیاسي لوړو پوسټونو سره سره، د علم او پوهې لوړو مدارجو ته هم رسېدلی و. شفیق یو نوماند عالم، سترګور ادیب، منلی قانونپوه، نوښګتر شاعر او وتلی دیپلومات و. شفیق، د ډېرو پر خلاف، له سترې علمي زېرمې او سیاسي منصب سره سره، خپله ټولنه پېژندلې وه او د یو مهربان رنځورپوه په توګه یې د خپل رنځور وطن رنځونه او دردونه جوت کړي وو او د هغوی د له منځه وړو په لار کې یې ډېرې هلې ځلې وکړې.

بنا پر دې، شفیق بېلګه سېته ګڼو او له دې امله هڅه کوو، نوي پښت ته دا هېر شوی شخصیت وروپېژنو؛ څو د ده ملي هیلې او آرمانونه د دوی په زړونو کې ژوندي پاتې شي او د سباني افغانستان لپاره ترې کار واخلي.

3

## زوکړه او کورنۍ

محمد موسی شفیق، د هېواد د نامتو عالم، مرحوم مولوي محمد ابراهیم کاموي زوی، د ۱۳۰۸ل کال د جوزا په پنځه نېټه (۱۹۲۹م) په کابل کې زېږېدلی و. له آره د ننګرهار د کامې ولسوالۍ اوسېدونکی دی. شهید شفیق په خپله څان داسې راپېژني:« زما نوم محمد موسی شفیق، پلار مې مولوي محمد ابراهیم کاموي نومېږي، زموږ کورنۍ د ننګرهار ولایت د کامې په سیمه کې اوسېږي. زه خپله په کابل کې چېرې، چې پلار مې ډېره موده کار کاوه د ۱۳۰۸ل کال د جوزا پر پنځمه زېږېدلی یم. رسمي تحصیلات مې په ابتدایي مرحله کې د کامې او کابل په ښوونځیو کې پیل کړي، بیا وروسته د پلار په اراده او امر د ننګرهار ولایت په نجم المدارس کې شامل شوم. دوه کاله وروسته د کابل عربي دارالعلوم ته

ولېږل شوم، چې د تحصیل له بشپړولو وروسته امریکې ته ولاړم«. 4

د ارواښاد شفیق پلار، مولوي محمد ابراهیم کاموي، په خپل وخت کې د هېواد له نوموتو څېرو ګڼل کېده. مولوي صاحب کاموي د افغان-انګلیس د درېیمې جګړې پرمهال، د ننګرهار په سراج العمارت کې د انګرېزانو پرضد د جهاد فتوا ورکړه، چې له ده وروسته د کابل په عیدګاه کې غازي امان الله خان هم جهاد اعلان کړ. ده په خپله د ملي لښکرو په ترتیب کې ښکاره رول درلود او په جهاد کې یې فعاله ونډه لرله. شهید شفیق د خپل پلار په باب وایي:« زما پلار د هغه اوږده او حساس ماموریت له کبله، چې د افغانستان په اوسني او پخواني دور کې یې سرته رسولی د افغانستان په تاریخ کې د یوه معین دور نمایندګي کوي. زه په خپل ځان کې د هغوی د مثبتو او ګټورو نظریاتو تاثیر ګورم«. بنا پر دې د شهید شفیق د شخصیت په جوړونه کې د ده د پلار مرحوم د علمي شخصیت اغېز جوت دی.

سره له دې چې مولوي محمد ابراهیم کاموي د هېواد په مختلفو برخو کې د قضا ستره او ستونزمنه دنده ترسره کړې وه، ولې ژوند یې ساده و. شهرت ننګیال د شفیق په باب په خپلې په زړه پورې څېړنې کې د ارواښاد مولوي کاموي په

هکله لیکي:« کله چې خدای ښښلی د مزارشریف مرافعه محکمې له ریاست نه تبدیل شو، سیمه ایزو چارواکو یې د سامان لېږدونې لپاره یو موټر ورلېږلی و، خو دی چې له خپل استوګنځای راووت، یوه زړه برسنته، یو تور چای جوش او څو ګیلاسونه ورسره وه، چارواکو داسې ګڼلې وه چې کېدای شي په دغه موټر کې به یې هم قالینې او نور سامانونه ځای نه شي، خو چې ویې لیدل د هغه ټول سامان د یوې غوټې په کچه دی، هک پک شول«.

5

## زده کړې

شهید شفیق هم د وخت د نورو زده کوونکو په څېر لومړنۍ زده کړې په ښوونځي کې پیل کړې. شفیق لومړنۍ زده کړې د کابل او ننګرهار په ښوونځیو کې پیل کړې. له لومړني ښوونځي وروسته د ده په وینا د »پلار په اراده او امر« د ننګرهار ولایت په نجم المدارس مدرسه کې شامل شو.
شفیق، په نجم المدارس کې دوه کاله سبق ووایه او له هغې وروسته د کابل په عربي دارالعلوم کې شامل شو. د نورو علومو په څېر، له بده مرغه په افغانستان کې دیني علوم هم وروسته پاتې دي. دیني علوم په دې نوي عصر کې لا هم د پخوا په څېر په عنعنوي ډول په مدرسو کې لوستل کېږي. د

افغانستان د مدارسو په حق کې تل حکومتونو خپل 
مسؤولیتونه نه دي ادا کړي. سره له دې چې د افغانستان خلک ملتزم مسلمانان دي او د دیني عالمانو خبره پر ځمکه نه غورځوي، خو بیا هم تېرو بې کفایته حکومتونو دغو حساسو ټکو ته پاملرنه نه ده کړې او حتی کله نا کله دغه واټن د حکومتونو د سقوط لامل هم شوی دی. کابل دارالعلوم هم له نورو مدارسو غوره نه و. ولې شفیق د خدای ورکړي لوړ استعداد په کارولو سره له دارالعلومه ډېر څه ترلاسه کړل.
شفیق په دارالعلوم کې د نورو طالبانو په څېر یوازې پر درسي نصاب بسیا ونه کړه، بلکې ادبي مطالعې یې هم ترسره کړې او په ادبي غونډو کې یې هم ګډون کاوه، چې دغو فعالیتونو له فراغت سره سم شفیق شاعر و لیکوال هم کړ. له فراغت وروسته له یوې خوا شفیق مولوي و او له بلې خوا شاعر او لیکوال، چې له دې امله په شاهي دارالتحریر کې پر دنده وګومارل شو.

په شاهي دارالتحریر کې له څه موده دندې وروسته، د پوهنې وزارت له خوا د مصر هېواد، الازهر نړیوال پوهنتون ته په یو تحصیلي بورس له لارې واستول شو. شفیق په مصر کې په اسلامي حقوقو کې د لیسانس برى لیک ترلاسه کړ او

له فراغت سره جوخت یې په عربي چارو کې هم په همدې هېواد کې ماسټري وکړه.



په عربي چارو کې له ماسټرۍ وروسته، شفيق د لوړو زده کړو د پرمخ بیولو په موخه د امریکا متحده ایالاتو د کولمبیا پوهنتون ته ولاړ. په کولمبیا پوهنتون کې یې په مقایسوي حقوقو کې دویمه ماسټري ترلاسه کړه. له دویمې ماسټرۍ وروسته، شفيق له هاروارډ پوهنتونه په نړیوالو چارو کې تصدیق ترلاسه کړ او د یو اکاډیمیک شخصیت په توګه بېرته هېواد ته ستون شو.
له پورته یادو شوو علمي سندونو سره سره شفيق په پښتو او دري سربېره، په عربي، انګلیسي او فرانسوي ژبو خبرې او لیکنه کولای شوه. شفيق په یو شمېر خپرونو کې په یادو ژبو حقوقي لیکنې هم کړي دي.

## ادیب شفيق

د شفيق د شخصیت ادبي اړخ ښایي زموږ درانه ادیبان او شاعران تر هرچا ښه درک کړي. زه به هڅه وکړم په دې باب د شاعرانو او ادیبانو نظریات راواخلم. لکه څرنګه چې مو مخکې یادونه وکړه، شهید شفيق د دارالعلوم د سبقونو

پرمهال، یوازې مولوي نه، بلکې شاعر هم شو. دغه مهال شفیق خواږه شعرونه وویل، چې وروسته هغه شعرونه د پیغام په نامه په ۱۳۳۷ل کال کې په یوه ټولګه کې چاپ شول.
شفیق د شعر په خوږه ژبې د ټولنې ستونزې په نښه کولې. دی د یوه ویښ او سترګور شاعر په توګه د ټولنې رنځونه په ګوته کوي، څو یې درملنه وشي. 8

رســول صلی الله علیه وسلم
درنه ځار شم ســر راپورته کړه یو ځلې
په آشنا جامو کې ورک یې ستا پیغام کړ
په آسانه په کې ساه وېســتل محال دی
هومره تنګ یې ســـتا هغه پراخ نظام کړ

شفیق هغوی رټي چې د دین په کارولو سره یې دنیایي مال ټولول هدف وي، وایي:
دین یې دام دی د دنیا په لار کې ایښی
پري را اړوي وحشـــــیان د مخلوقات
د هغو په لور یې ســـترګې وي خپلې
چې په لاس یې سر سایه وي یا زکات

شهید شفیق خپله د (پیغام) د شعرونو په باب وایي :«...دغه شعرونه هغه وخت ویل شوي، چې ما په دارالعلوم کې د یوې مجهولې ایندې خوا ته زړه او نازړه په وېره وېره خاپوړې کولې. له هغې نه وروسته زما په ژوند کې ډېر تحولات پېښ شول، د هغې ایندې ډېره برخه اوس شوه او که زه د دې »اوس« نه په دې کم او کیف خبر وای ما به د هر یو کال نه به هماغه تنګ، تریو او تپه تیاره دارالعلوم کې دوه او درې کلونه جوړ کړي وای«. 9

د شفیق د شاعرۍ په اړه د پښتو ژبې نامتو لیکوال او څېړونکی، ښاغلی شهرت ننګیال وایي:«...په تېره د قطعو او څلوریز په چوکاټ کې یې، چې د مناجاتو کومه بریالۍ تجربه کړې هغه د خواجه عبدالله انصاري د مناجاتو سپېڅلتیا، څرګندتیا او ژورتیا ټوله په خپله غبږ کې رانغښتې، په پښتو کې په دغسې کم او کیف د مناجاتو یا راز او نیاز شاعري، چې له دنیا نه د تېښتې پرځای ملي دردونه، هېوادني آرمانونه او ټولنیزې ستونزې په کې سپړلې او څېړل شوي وي، په خپل ځای یو نوښت ګڼلی شي. د دغو شعري ټوټو شمېر ٥٤ ته رسېږي او د ټولګې لومړۍ برخه جوړوي«.

له شاعرۍ سره سره شهید شفیق لنډې کیسې هم لیکلي دي.

د لنډو کیسو ټولګه یې د (عبقریان) په نامه په ۱۳۴۶ل کال کې په کابل کې خبره شوې وه. په دې ټولګه کې ټولې پنځه کیسې دي. د عبقریان په نامه کیسه په دري او څلور نورې د هفته کوک، ډاکټر صاحب، د تمې کاروان، او برکت تر سرلیکونو لاندې پښتو کیسې دي. په دغو کیسو کې هم د ټولنې ستونزې او مشکلات په ګوته شوي دي.

10

د افغاني ټولنې وروسته پاتې والی ترې روڼ بریښي. د عبقریان په سریزه کې شهرت ننګیال لیکي:« د عبقریان مجموعه په لنډو کیسو کې تحلیلي او توصیفي اړخ او انتقادي شعور ډېرې ښې غزونې کړي او د پښتو لنډې کیسې په وړاندې یې د نړۍ له پرمختللي ادب څخه د ښې او په ځای استفادې او نویو تجربو هڅې په ډېر مهارت سره پلي کړي دي.

مرحوم شفیق د نړۍ له پرمختللي ادب نه د خپل ملي ادب په بنیاد استفاده کړې او هېڅکله یې هم پښتو ادب د غربي ادب په خم کې نه دی رنګ کړی او د پښتو ادب انفرادیت او ځانګړتیاوې یې په ښه شان ساتلي دي.

په دې توګه یې هېڅکله هم پښتني اقدار له پامه نه دي

غورځولي او پښتني ماحول او تهذيب يې ډېر ښه په کې انځور کړی دی. په دغو لنډو کيسو کې د ټولنې نيمګړتياوو ته ګوتنيونه او د هغې سمون په ډېر لطيف انداز کې ښودل شوي او په انتقاد کې دزړه سوي او اصلاح حقيقت په ډېره په زړه پورې ښه نغښتل شوی دی. ... په دغو کيسو کې د تفريح او ادبي تندې د ماتولو په څنګ کې د اصلاح او ټولنيزو ستونزو او د هغو حل ته هم د پام اړولو هڅه شوې ده.[11]

ځکه خو موږ شهيد شفيق د پښتو ادب د نوښتګر او مجتهد ليکوال په توګه پېژنو، چې د ده فن او هنر زموږ د ادبي او قلمي هڅو برياوو او لاسته راوړنو يو زرين پېر ګڼلی شي«. په همدې سريزه کې ښاغلی شهرت ننګيال د شهيد شفيق د لنډو کيسو په باب د ښاغلي زرين انځور نظر را اخلي:« د شهيد محمد موسی شفيق کيسه ليکنه زموږ د معاصرو ادبياتو په څېړنه کې د ډېرو دلايلو له مخې يوه په زړه پورې برخه جوړوي، سره له دې چې هغه هم يا زياتې لنډې کيسې ونه ليکلې او يا يې موږ ته ټولې لنډې کيسې را ونه رسېدلې، خو هغه څه چې ترې پاتې شوي او هغه لنډې کيسې چې نن زموږ په لاس کې دي د خپل وخت د ډېرو ښو اثارو په توګه به تل خپل ارزښت وساتي«. که څه هم شهيد شفيق تر مصر

او امریکا ورسېد او لوړې زړه کړې یې وکړې، ولې بیا هم د یوه ځیرک لیکوال او شاعر په توګه یې د نړۍ په مختلفو ځایونو کې د وطن د ستونزو په باب شعرونه او کیسې لیکلې دي. 12

کله چې په مصر کې په لوړو زده کړو بوخت و، بیا یې هم د کابل ادبي خپرونې تعقیبولې. په خپل یو لیک کې استاد صدیق الله رښتین ته لیکي:« خدای پاک دې وکړي چې په کارونو او وظایفو کې لابریالی او موفق اوسې. کابل مجله، چې کله رارسي، نو د پښتو ټولنې د اجراآتو اجمال په کې په مزه مزه لولم، مجله ډېره ښه شوې، هیله ده د کارونو په ګڼه ګوڼې کې مو صحت ښه وي«.
هره ژبه وخت پر وخت په طبیعي ډول پرمختګ کوي. که موږ اوس له ننه د څلوېښت-پنځوس کالو مخکې پښتو ګورو، له ننۍ هغې سره به خورا توپیر لري، ولې د شهید شفیق په خوږو لیکنو کې دا هم د انسان پام ځانته اړوي، چې ډېرې ښکلې جملې یې لیکلي او له ننۍ پښتو سره یې ډېر توپیر نه شته. لکه د لیک په دې برخه کې:« ستا ښکلی او رنګین لیک د وخته رارسېدلی، ستاسې د خواږه لیک د خوږو جملو موسیقي مې اوس هم په غوږو کې ده، ستاسې د فکر مارغه،

چې دلته راغی په ډېرو ښکلو او ښایسته ځایونو مې وګرځاوه، هلته د صحرا په لمن کې د څه کم څلور زره کاله وړاندې اهرام مې ورته وښود...«. 13

شهید شفیق نن ژوندی نه دی، خو د ده مینه وال اوس هم د ده شعرونه او کیسې په خوند خوند لولي. که شفیق ځوان پښت ته وروپېژندل شي، دا به د ده د لیکنو د تلپاتې والي او څاره نښه وي.

## ډیپلومات شفیق

ارواښاد محمد موسی شفیق نه یوازې د دندې پر بنسټ، بلکې د ډیپلوماسۍ پر رمز پوه، مسلکي ډیپلومات و. شفیق، چې کله له امریکا هېواد ته راستون شو، کابل پوهنتون کې د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي کې استاد شو. له دې سره سره، د عدلیې وزارت د قوانینو عمومي مدیر، د عدلیې وزارت د تقنین د چارو رئیس، د اساسي قانون د مشورتي کمیسیون غړی، د عدلیې وزارت معین، د ۱۳٤۲ل کال د لویې جرګې غړی او عمومي منشي-د ۳۵ کلونو په عمر- د بهرنیو چارو وزارت سلاکار، په قاهره، بېروت او خرطوم کې افغانستان د سفارت دندې یې سرته رسولي دي.

د ډیپلوماتیکي زده کړو تر څنګ، د دومره شمېر دندو له
سرته رسولو وروسته شفیق په لومړي ځل د ډاکټر عبدالظاهر
په کابینه کې په ۱۳۵۰ل (۱۹۷۱م) کال د بهرنیو چارو وزیر 14
وټاکل شو. په حکومت کې د شفیق د بې ساري پرمختګ له
عمده لاملونو یو ښایي دا وي، چې شفیق د خپل وخت د نورو
سیاسي څېرو په پرتله، پراخه علمي زېرمه لرله. ده، خپل
پوهنیز یون یې له افغاني عنعنوي مدرسو پیل او تر الازهر،
هارورډ او کولمبیا پوهنتونونو پورې ورسېد. له دې سره یې
پر عربي، انګلیسي او فرانسوي ژبو، چې درې واړه نړیوالې
ژبې دي، تسلط لاره. د دې ترڅنګ د شفیق خدای ورکړي
استعداد له دغو دندو او زده کړو سره لاوغوړېد. دی، د
عربانو او غربیانو پر ژبو او رمزونو ښه پوهېده.
د بهرنیو چارو د وزارت پرمهال د ده په باب ښاغلی ننګیال
لیکي:« خدای بښلی شفیق په جارجتون کې د ناپېیلیو
هېوادونو د بهرنیو چارو وزیرانو په کنفرانس کې د افغاني
پلاوي د مشر په توګه په خپله وینا کې د ناپېیلتوب
غورځنګ د استقامت په جوتولو د ټولو پام راوګرځاوه او په
جده کې یې د اسلامي هېوادونو د بهرنیو چارو وزیرانو په
غونډه کې په خپل ګډون اسلامي نړۍ ته د ورپېښو ربړو او
چیلنجونو په اړه وینا وکړه«.

محمد موسی شفیق د افغانستان په څېر د درېیمې نړۍ د یو وروسته پاتې هېواد د بهرنیو چارو وزیر و، خو له دې سره سره هم چې د نورې نړۍ د هېوادونو پام د ځان لور ته اړوي دا د ده دیپلوماتیکي توان ښيي. که د بهرنیو چارو وزارت کې د شفیق فعالیتونو ته ځیر شو؛ د ده هڅاند طبعیت ځرګندېږي. پاچا (محمد ظاهر) پر شفیق ډېر باور درلود. 15
ښاغلي شفیق هم له همدې باوره استفاده کوله. حتی د سفارت پرمهال یې له لومړي وزیره سترګه نه سوځېده او په مهمو مسایلو کې یې برخه اخیسته. عبدالغفار فراهي، په خپل کتاب (افغانستان د دیموکراسۍ او جمهوریت په کلونو کې) په دې باب لیکي:« په ۱۹۷۰ل کال کې کله چې محمد موسی شفیق په قاهره کې سفیر و، په هغه وخت کې د ایران یو عالي رتبه هیات د هلمند د اوبو، د مذاکراتو له پاره کابل ته سفر کاوه. محمد موسی شفیق، صدراعظم نور احمد اعتمادي ته اطلاع ورکړه چې دی غواړي چې د ایراني هیات د لیدلو له پاره کابل ته سفر وکړي. نور احمد اعتمادي ده ته په جواب کې ویلي وو:« کابل ته ستاسې د راتګ ضرورت نه سته»، خو محمد موسی شفیق د صدراعظم له مخالفت سره سره کابل ته سفر وکړ او له ایراني هیات سره یې په مذاکراتو کې برخه واخیسته«.

ارواښاد شفیق په داسې حال کې د حکومت واګې په لاس کې ونیوې، چې د ډیموکراسۍ د لسیزې حکومتونه یو بر بل پسې له ماتې سره مخ شوي وو. شفیق د ډاکټر عبدالظاهر په کابینه کې د بهرنیو چارو وزیر و. د ډاکټر عبدالظاهر حکومت د داخلي ستونزو له امله له ماتې سره مخ شو. دې کار پاچا وارخطا کړ. ځکه یو پر بل پسې د څو حکومتونو ماتې د پاچا مشروعیت هم تر پوښتنې لاندې راوسته. بنا پردې په (۷ډسمبر۱۹۷۲م، ۱۶قوس۱۳۵۱ل) کال پاچا محمد موسی شفیق د افغانستان د لومړي وزیر په توګه ونوماوه او د کابینې جوړولو سپارښتنه یې ورته وکړه. د شفیق کابینه په لاندې ډول وه:

| | |
|---|---|
| محمد موسی شفیق | صدراعظم |
| ستر جنرال خان محمد | د دفاع وزیر |
| نعمت الله پژواک | دکورنیو چارو وزیر |
| نصرت الله ملکیار | د مخابراتو وزیر |
| محمد خان جلالر | د مالیې وزیر |
| غلام دستګیر عزیزي | د معادنو او صنایعو وزیر |
| عبدالواحد سرابي | د پلان وزیر |
| صباح الدین کشککي | د اطلاعاتو او کلتور وزیر |

پخواني حکومتونه به له شورا سره لاس او ګرېوان وو. په داسې حال کې چې د شفیق حکومت له شورا سره ښې اړیکې پاللې او په ډېره لنډه موده کې یې د باور رایه ترلاسه کړه. د شفیق د حکومت د فشار په نتیجه کې پارلمان ګڼ شمېر لوایح او قوانین تصویب کړل. شفیق د شورا په ودانۍ کې ځانته دفتر پرانیست او د اونۍ یوه ورځ به هلته ناست و. د شفیق فعالیتونو له شورا سره د ده د حکومت اړیکې ډېرې ښې کړې. د شفیق د فعال حکومت په باب سید قاسم رشتیا په خپلو خاطراتو کې کاږي:« شفیق یو شمېر ځوان او تحصیل یافته عناصر خپل شاوخوا ټول کړي وو، چې د هغو ډېرو سابقه نه لرله؛ دوی یو ډینامیک او نوښتګر حکومت منځ ته راوړ او یو لړ مغلق او پېچلي مسایل یې په ډېر جرات له شورا سره د جوړجاړي له لارې حل و فصل کړل«.

د شفیق له حکومت سره ډېری مورخین د ډینامیک، فعال، متحرک، نوښتګر او ... صفات یادوي. د شفیق حکومت له ځانه وړاندې ډېر بې کفایته حکومتونه تېر کړي وو. هغوی ټول یو بر بل پسې له ماتې سره مخ شول. د هغوی د ماتې یو عمده لامل ښایي د پاچا له خوا هغوی ته لږ واک ورکول او د سلطنتي کورنۍ له خوا په حکومتي چارو کې مداخله وي. د

سلطنتي کورنۍ له خوا په حکومتي چارو کې مداخله وي. د
شفيق له راتګ سره به پاچا ويل چې ده څلوېښت کاله
وروسته د خپلې خوښې لومړی وزير موندلی دی. له همدې
امله د پخوانيو صدراعظمانو په پرتله، پاچا شفيق ته ډېر واک
ورکړی و. عبدالغفار فراهي ليکي:« پاچا ته نژدې د خارجه
وزارت يو مامور ويلي وو چې پاچا د دولت د ډېرو مامورينو
قدر کوي، ولې محمد موسی شفيق، د عشق تر سرحده پر
پاچا باندې ګران دی«.

18

شفيق له پاچا سره له خپلو نژدې اړيکو نه اعظمي استفاده
وکړه. شفيق د يوه لومړي وزير په توګه له خپلو صلاحيتونو
استفاده کوله. دی په حکومتونو کې د سلطنتي کورنۍ د غړو
د مداخلې سخت مخالف و. شفيق يوازې د سلطنتي کورنۍ
له غړو سره لاس او ګرېوان و. د داوود خان ډله او چپيان د
ده د حکومت جدي مخالفين وو. شفيق په څو مياشتينې
صدارت کې د کلونو راهيسې پاتې کارونه پرمخ يوړل.

دی د يوه زړور صدراعظم په توګه د ملي ګټو پروړاندې له
هېچا نه ډارېده. د ايران له ګاونډي هېواد سره د هلمند د
اوبو پر سر لانجه د ډېر وخته راهيسې هماغسې لانجمنه
پاتې وه. شفيق د دې لانجې حل پسې مټې رابډ وهلې. له

مقدماتي مذاکراتو وروسته یې په (۱۳۵۳ل/۱۹۷۳م) نېټه ایران سره د هلمند د اوبو تاریخي موافقه لاسلیک کړه. د حکومت دې اقدام یو لړ مخالفتونه راوپارول. 19

د دغو مخالفتونو تر شا د داوود خان په مشرۍ د چپیانو ډله او د پخوني لومړي وزیر، محمد هاشم میوندوال ډله وه. د هېواد د سیاسي چارو څېړونکی، ښاغلی وحید مژده په خپل کتاب (روابط سیاسي افغانستان و ایران د قرن بیستم) کې له دې پرېکړې سره د مخالفتونو په باب لیکي:« د تړون د امضا د خبر له خپرېدو سره په کابل کې لاریونونه پیل شول.

د خلقیانو لاریون د ښار په مرکز کې و؛ حفیظ الله امین وینا وکړه او له سپکو جملو سره یې دا عمل له امریکا سره موافقه او د امریکا له ژاندارم(د ایران د وخت حکومت) سره یې یوځای والی وباله. پرچمیانو هم په ورته لاریون کې د ببرک کارمل په مشرۍ د خلقیانو په څېر د هلمند قرداد په سختو ټکو وغانده. د محمد هاشم میوندوال په مشرۍ د ډیموکرات مترقي ګوند له خوا هم کوچنی لاریون وشو او د هلمند له موافقې سره یې خپل مخالفت څرګند کړ؛ په دې ډول سره د تړون د لاسلیک پرضد یوه متحده جبهه منځ ته راغله.

د دغه تړون لاسلیک چې د ایران او افغانستان ترمنځ یې سل کلن اختلاف ته د پای ټکی کېښود، د شوروي اتحاد په خوښه نه وه، ځکه دې هېواد نه غوښتل چې د افغانستان او ایران ترمنځ اړیکې منځ ته راشي چې د افغانستان او امریکا تر منځ یې د نژدې والي زمینه برابروله. ... د ځینو مخالفینو استدلال دا و، چې دا تړون د افغانستان له ځمکنۍ بشپړتیا سرغړونه ده؛ ځکه په لومړي پرتوکول کې د ایران کمیسارۍ ته اجازه ورکړل شوې وه چې د هلمند اوبه په دهراود کې اندازه کړي«. 20

دغه مخالفتونه له بده مرغه مشروع نه وو. دا ټول سیاسي مخالفتونه وو، چې هر لوري په کې خپلې موخې لرلې. د سړې جګړې پرمهال ایران په سیمه کې د امریکا نژدې دوست هېواد و. ایران سره د افغانستان د لانجې پای ممکن و له ایران سره د افغانستان اړیکې ښې کړي او له دې لارې د دې شونتیا ډېره وه چې له امریکا سره به افغانستان نژدې شي، بنا پر دې پخواني شوروي اتحاد په افغانستان کې خپلې لاسپوڅې ډلې ټېلې د دې تړون مخالفت ته پارولې. له دې امله دغه مخالفتونه ټول سیاسي وو او هېڅ ډول ولسي اساس یې نه لاره. ښاغلی مژده لیکي:« د دې تړون له لاسلیک سره هغه اختلاف له منځه ولاړ چې د دوو هېوادونو پر اړیکو یې

هغه اختلاف له منځه ولاړ چې د دوو هېوادونو پر اړیکو یې سیوری غوړلی و او لکه څرنګه چې وویل شول، د دې په هکله مخالفتونو سیاسي جنبه لرله. د بېلګې په توګه، محمد هاشم میوندوال، چې د خپل قدرت پرمهال یې په دغو دولتي مذاکراتو کې ګډون کاوه او حتی د مرحوم فرهنګ په خبره چې په ډېرو بدو شرایطو سره تیار و چې دا تړون لاسلیک کړي؛ ولې د دې تړون له لاسلیک سره یې مخالفت وکړ«.
21

له بده مرغه د کمونیستانو د تودو شعارونو اغېز تر اوسه هم زموږ په ټولنه کې په ځینو ذهنونو کې شته دی. کمونیستانو د هلمند د اوبو پر سر د شفیق موافقې ته »آب فروشي« ویله، ولې دوی بیا د اوبو په ګډون هر څه شوروي ته په سوغات کې وروبښل! دا هم ښایي د شفیق د حقانیت نښه وي، چې نن یې هېوادوال د یوه ملي مشر په توګه پېژني او کمونیستان لا هم د ملت له لوري رټل کېږي.

له موافقې سره دغو مخالفتونو شفیق ډېر کړاوه. عبدالغفار فراهي له شهید شفیق سره د هلمند د اوبو په باب د خپلې کتنې کیسه داسې کوي:«...ما د خپلو خبرو په پای کې محمد موسی شفیق ته وویل چې په افغانستان کې ډېر صدراعظمان راغلي او تللي دي، ولې له دوی څخه یوه هم

داسې یوې لویې مسالې ته په دغه عجله لاس نه دی اچولی او تاسې ولې اوس غواړئ چې دا پېچلې مساله داسې ژر حل کړئ ؟ د ارواښاد محمد موسی شفیق په سترګو کې اوښکې راغلې او زما په جواب کې یې وویل:« همدغه علت دی چې افغانستان دومره شاته پاته شوی دی. اوس ما فیصله کړې ده چې د افغانستان ټوله پرابلمونه به حل کوم او وروسته دې تاریخ پر ما باندې قضاوت وکړي«.
22

شهید شفیق د یوه اکاډیمیک او سیاست پوه لومړي وزیر په توګه، په سیمه کې د افغانستان موقعیت او مجبوریتونه ښه درک کړي وو. افغانستان یو وچې پورې تړلی هېواد دی. موږ اړ یو، چې سمندر ته د لاس رسي په موخه له ګاونډیو هېوادونو سره ښې اړیکې ولرو. دغه دوستانه اړیکې تر هر چا زیات د افغانستان په ګټه دي. نن سبا سمندر سره نه ارتباط له نړۍ څخه د جلا والي په معنا ده. له بلې خوا زموږ دواړه ګاونډي (ایران او پاکستان) هغه مهال په سیمه کې د امریکا د متحده ایالتونو نژدې دوستان وو. افغانستان کولای شوای دغو هېوادونو سره د نژدې والي له لارې، له امریکا او بیا د خلیج له ثروتمندو هېوادونو سره ښې اړیکې ولري.

د افغانستان په خبر بې وزله هېواد د دغو په خبر په

اقتصادي لحاظ پیاوړو هېوادونو سره دوستۍ او نژدې والي ته ډېر اړ و. شفیق په دې هڅه کې و چې افغانستان له ګاونډیانو سره ښې اړیکې ولري، ځکه افغانستان لپاره دوستانه اړیکې خورا مهمې وي. د هلمند د اوبو د لاسلیک پرمهال شفیق ویلي و:« هیله من یم وکولای شم له پاکستان سره د پښتونستان مساله هم حل کړم. شفیق پوښتونکي ته وویل :« ښایي دا په پام کې ولرو چې موږ د هر مشکل په حل کې، د پښتونستان په ګډون، باید د خپلو افغاني ګټو په باب فکر وکړو«.

23

په افغانستان کې تل د ملت او حکومتونو ترمنځ واټن پاتې شوی دی. د افغانستان ملت ملتزم مسلمان ملت دی. د اسلام لپاره د ځان قربانۍ ته تیار دی. د اسلامي ارزښتونو اړوند د تېرو حکومتونو بې تفاوتیو د دې واټن په ساتلو کې مهم رول لرلی دی او همدا ستونزه کله نا کله د حکومتونو د ماتې لامل شوې ده. له بده مرغه د افغانستان ډېری تېر حکومتونه په دې چاره کې پاتې راغلي، چې حکومتي ګټې د ولس له ارزښتونو سره همغږې کړي، څو د ولس له دې قوي احساس څخه د وطن په ګټه کار واخلي. د شفیق دې مهم ټکي ته پام و.

اروابناد شفیق د خپل حکومت پرمهال ځینې داسې ګامونه اوچت کړل، چې له یوې خوا د شفیق تدبیر او اسلام دوستي ترې ښکارېده او له بلې خوا یې پر حکومت د ولس د باور په زیاتوالي کې رول درلود. شفیق د خپل حکومت پرمهال په راډیو افغانستان کې د پنځه وخته آذان حکم وکړ، چې
24
ورپسې به د هېواد یو جید عالم د اسلام او افغانستان د پرمختګ او ترقۍ لپاره دعا کوله. سر بېره پردې، شفیق د کابل په ښار کې د یوې کلیسا د وراني امر وکړ، سره له دې چې یو شمېر سفارتونو او حتی افغانانو یې مخالفت وکړ. دغه کلیسا د دارالامان د سرک پر امتداد د شوروي له سفارت سره نژدې د قاچاق په ډول جوړه شوې وه. کشککي لیکي:« د افغانستان له قانون سره سم، خارجیان د غیر منقولو جایدادونو د پېرودلو حق نه لري، ولې د کلیسا ښتن دغه ځمکه له نصیراحمد شنسب څخه اخیستې وه او د کابل ښاروالۍ د کبیر نورستاني په امر د ځمکې د خرڅ او د کلیسا د جوړولو امر ورکړی و. کله چې شفیق د کلیسا د وراني فرمان صادر کړ؛ یو شمېر افغان انجینرانو هغه ته یو مشترک لیک ولیکه او ترې ویې غوښتل چې د کلیسا له وراني لاس پر سر شي؛ ځکه دا په کابل د دوی د انجینرۍ »شهکار« دی. شفیق د انجینرانو دې کار ډېر غوسه کړ او د

ټولو هغو د محاکمې امر یې صادر کړ چې په دې کار کې یې لاس لاره«.



یوازې د پورتني مثال پر بنسټ که ځینو ته د شهید شفیق اسلامپالنه ستونزمنه بریښي، داسې نورې ډېرې بېلګې شته، چې د شفیق اسلام دوستي تري رڼه ښکاري. اروانښاد شفیق د »شهر غلغله« په نامه د رسټورانټ د بندېدو امر صادر کړ. شهر غلغله رسټورانټ د لوړپوړو چارواکو د عیاشۍ او فحاشۍ پر مرکز بدل شوی و.

کشککي وايي، چې د ولسي جرګې یو شمېر غړو ده ته اعتراض وکړ، ولې شفیق خپل امر پرځای کړ. لکه څنګه چې مخکې یادونه وشوه، د افغانستان تېرو حکومتونو له بده مرغه د اسلامي مقدساتو په ساتنه کې خپل مسؤولیت نه ادا کاوه. د نور احمد اعتمادي د صدارت پرمهال د پل خیشتي په جومات کې د علماوو احتجاج د وسله والو ځواکونو پر مټ مات شو. دا او ځینې نور – په تېره د کمونیستانو اسلام ضد فعالیتونه- کارونه کېدل چې د اسلام له مبارک دین سره په څرګند ټکر کې وو او حکومتونو پرېکنده اقدام نه کاوه.

دې مسئلې له حکومته ملت زړه تورن کړی و. شفیق لومړنی

صدر اعظم و، چې د اسلام مبارک دین د دفاع غږ پورته کړ.
کشککي لیکي:« د ۱۹۷۳م کال د جنورۍ د میاشتې په ۲
26 نېټه، شفیق په یوه خبري کنفرانس کې وویل، چې دا د
حکومت دنده ده چې په هېواد کې د اسلام ضد تمایلاتو
مخه ونیسي. د ګهیځ جریدې د شفیق د دغو څرګندونو
باندې تبصره وکړه او ویې لیکل:« د لومړي وزیر دغه
څرګندونې د دې وړ دي چې تبصره پرې وشي؛ ځکه تېرو
حکومتونو دیني مسایلو ته واقعي پاملرنه نه وه کړې او په
ټولنه کې له دیني اصولو سرغړونه یې د سیاسي ډلو ترمنځ
اختلافات ګڼل. ګهیځ ولیکل، د دیني مسایلو په هکله د
پخوانیو حکومتونو د غفلت له امله په ټولنه کې د دغو بدو
اغېزو په پام کې نیولو سره، د اسلام ضد تمایلاتو د مخنیوي
په باب د صدراعظم شفیق د حکومت د لهجې شجاعت د
ستایلو وړ دی«.

## اسلامپال شفیق او د زیار بې بنسټه تور

د تحقیق یو له مهمو اصولو دا دی، چې لیکوال او څېړونکي
ته نه ښايي، چې په څېړنه کې شخصي تمایلاتو ته ځای
ورکړي. په څېړنه کې شخصي تمایلاتو ته ځای ورکونه ښايي
دوه لاملونه ولري: لومړی دا چې څېړونکی، د څېړنې په کار

د پښتو ژبې لیکوال او څېړونکي، مجاور احمد زیار د شهید شفیق په باب د (د موسی شفیق اړپېچلی اند و ژوند د یادونو په هېندار کې) تر سرلیک لاندې یوه مقاله کښلې ده. ده په دې لیکنه کې هڅه کړې چې خپل شخصي افکار پر شهید شفیق وتپي. کوښښ یې کړی چې شفیق د دیني احکامو پروړاندې بې تفاوته څرګند کړي.



زیار د مقالې په یوه برخه کې لیکي:«...په هغه کې یې له خپل لومړني »مدرسه یي« ژونده یو راز کرکه او بېزاري څرګنده کړې، د ناجوت برخلیک (مجهول سرنوشت) پېر یې بللی او داسې یې راښوولې چې پلار یې د یوه نوموتي دینښووان په توګه په وچ زور ور اړیستلی و....یوه نژدې کورني دوست یې راته د نورو کیسو په لړ کې د دارالعلوم د وختو یوه کیسه کوله چې د کاه فروشي یا کتاب فروشۍ د جومات په یوه وړه اوجره کې اوسېده او دی پرې د شپې ناوخته ورپېښ شوی و، چېلم یې مخې ته ایښی و، شبېه پر شبېه به یې تمکو تیلی ورته کاوه او هسې یوه کوړ به یې تر ایسته«. لومړی دا خبره څرګندوم چې په چېلم وهلو سړی له دینه نه وځي.

زه دا وایم چې د شفیق د ستې په باب د مقالې کښلو پرمهال زیار د مطالبو له دومره قحط سره مخ و چې دا یې لیکل؟!
کاش زیار له حقیقته سترګې نه وای پټې کړې او قصداً یې ځان نه وای غلط کړی. نه یوازې شهید شفیق، بلکې زموږ د ټولنې زیات شمېر علما او دیني متخصصین د مدرسو له نصابه سر ټکوي. دا په دې معنا نه ده چې دوی ګواکې له مدرسې زړه تورن دي. د مدارسو او پوهنتونونو د نصاب په باب، افغان سیاسي او علمي کارپوه، ډاکټر مصباح الله د (د کرزي د حکومت په بهیر کې د ښوونې او روزنې بهیر) تر سرلیک لاندې مفصل کتاب لیکلی او د دیني مدارسو د نصاب لپاره یې ګټور وړاندیزونه کړي دي. شهید شفیق چې د مدرسې وخت ناجوت برخلیک باله، هغه هم له زاړه نصابه او زوړ پوهنیز سیستمه زړه تورن و.

بل ځای زیار لیکي:« د وزارت په ورځو شپو کې یې یو ځل د منډې له مخې داسې مهال د پلار لیدو لپاره کامې ته ولاړ چې په یخ کرخ جومات کې یې د مرګ تر تشتور کټ پروت وو او ده ترې بېرته پښې راسپکې کړې وې. که څه هم، ښایي کابل ته به یې د لېږدونې او درملنې ټېر ورټېولی وي، خو هغه مړه خوا انسان چې له امانه تر ظاهره د یوه بېلګه قاضي

په توګه په پاکۍ او پرهېزګارۍ کې نوم اېستلی وو او له ده یې هم د بې کچه »عصریت« له کبله خوا پوره بده وه، کله یې »هو« پر خوله راتلای شوه!«.

29

د زیار هڅه دا ده، چې شفیق له دیني ارزښتونو زړه تورن ثابت کړي او یا لږ تر لږه د اسلامي احکامو پر وړاندې خو یې د ده (زیار) په څېر بې تفاوته او سیکولر ډوله وبرېښوي. وړاندې ځي او د »اخوانیت تور« تر سرلیک لاندې لیکي:«... نورمحمد تره کي د نورو روښاندانو په څېر دی هم د ۱۹۶۵م کال پر لومړۍ نېټه د خلکو د دیموکراتیک ګوند بنسټوالې کنګرې ته وربللی وو. خو چې هغه بلنه یې ور رد کړې وه، د اخوانیت تور یې ورباندې لګولی وو. راوروسته اړوندو ګوندیانو هغه تور نور هم پسې انګروزه کړ، هغه هم په دې دک دلیل چې ګوندې له جامع الازهره راستانه شوي افغانان زیاتره اخوانیان ول. خو زما او نور ډېرو پر اند یې له اخوانیانو سره خواخوږي د امریکا او نورې پانګوالي او اسلامي نړۍ غوندې له انتي سوویتېستي-کمونېستي سیاسته سرچینه اخیسته او له همدې لامله یې د ګلبدین غوندې سختچاري اخواني بندیان د سروزیرۍ په هماغه لومړیو کې له زندانه ازاد کړل. د کړو وړو له پلوه یې خو تر سېکولره هم ورتېره کړې وه او له ښایسته ډېر مهال راهیسې یې چا لمونځ و روژه

کړې وه او له ښایسته ډېر مهال راهیسې یې چا لمونځ و روژه نه لیدلې(!)«.

30

ښایي د شهید شفیق مسلمانه کورنۍ، د ده اسلامي زده کړې، د سیاسي پوښتونو پرمهال کړنې یو خوا او د زیار بې بنسټه څرګندونو بلې خوا ټول هک پک کړي وي. سر بېره پردې چې پورته د زیار د تورونو رد څو څو ځله تېر شو؛ ولې هغه ټکي چې نه دي یاد شوي او د شهید شفیق د سټې اسلامي اړخ لا روښانه کوي ښایي یاد شي، څو درانه لوستونکي د خپل قضاوت پرمهال دا هم په پام کې ونیسي. شهید شفیق په خپل لاس لیکلي ژوند لیک کې لیکي:«...د قاهرې ثقافتي محیط له رسمي تحصیل پرته زما د فکر پر وسعت زیات تاثیر وکړ. د امریکې سفر او استوګنې د غربي ژوند له طرز سره آشنا کړم او بالاخره د دې مختلفو موثراتو د تفاعل په نتیجه کې له ما سره هم یو شمېر ثابت نظریات د ژوندانه په باب پیدا شول، چې زه ورته »خپله لار« وایم او ډېر دوستان لرم، چې موافقه ورسره نه لري«.

دا چې »خپله لار« کومه لار ده، ښاغلی شهرت ننګیال یې تفسیروي:« شفیق چې څه ته خپله لار وایي، هغه د دین او دنیا یو ځای کولو لاره ده، د داسې یو ځای کولو، چې یوه یې

د بلې مخه و نه نیسي او د یو بل لوری ډېر نه کړي«. که د شهید شفیق خپلې لارې ته ځیر شو، په ډېرې آسانۍ سره راته جوتېږي، چې شفیق د خپل وخت له ډېرو عصري زده کړیو سره مخالف و. هغه مهال متاسفانه، ځینو دنیا ته شا کوله او ځینو نورو بیا آخرت ته کار کول »تحجر او شاتګ« باله. شفیق د یوه سترګور عالم په توګه د سیند د مسیر خلاف یون کاوه؛ ځکه ټولنه ګرده یوې او بلې خواته روانه وه؛ د شفیق په څېر د ګوتو په شمار وو چې هغوی دغه ډول منځلاری دریځ غوره کړی، چې په اصل کې د اسلام د مبارک دین له روح سره یې بشپړه موافقه وه. 31

له اخوان سره د شفیق خواخوږي عکس العملي یا تور په ګوته کوي او ډېر ساده دلیل یادوي، چې شفیق د چپیانو غونډو ته لاړ نه، هغوی پرې د اخواني توب تور ولګاوه. نامتو تاریخ لیکوونکی، مرحوم محمد ابراهیم عطایي، په خپل معتبر کتاب، (د افغانستان پر معاصر تاریخ لنډه کتنه) کې وایي:« شفیق یو ځوان او زړور صدراعظم و، ده عالي تحصیلات په قاهره کې سرته رسولي وو او د اخوانیت تعهدات یې درلودل«. که اخوان ته ژمن څوک، شفیق اخوانی بولي، ښایي زیار ډوله کسان یې په آسانۍ سره رد کړي، ولې که داسې یو چاته چې اخوان سره هېڅ ډول تراو نه لري او شفیق اخوان ته

ژمن بولي، د زړپار به څه ځواب وي؟!

32

سر بېره پردې شهرت ننګیال د جنرال رحمت الله صافي په حواله د شفیق په باب لیکي:«...او له شپږ میاشتو وروسته د قران کریم حافظ شو«. همدارنګه ښاغلی ننګیال د همدې اثر په بله برخه کې لیکي:«...ویل کېږي، چې خدای بښلي په دهمزنګ زندان کې د قرآن کریم تفسیر کښلی، خو کومه نسخه یې د چا په لاس کې نه شته. د ده کتابتون، چې د نجیب د رژیم تر نسکورېدو په کابل کې خوندي وو، په تنظمي جګړو کې زیانمن شوی، ښایي د تفسیر په ګډون یې د زندان او له هغې وروسته وختونو لیکنې او یادښتونه هم له منځه تللي وي«. په زندان کې د نولسو سپارو حفظول د شفیق پر اسلامي شخصیت د زیار مانندو تورونه بې بنسټه کوي. او که د تفسیر کښلو خبره یې حقیقت ولري، بیا یې نو په دې علمي-عبادي شهکار سره له یوې خوا د زیار تومتونه بې بنیاده کړي او له بلې خوا یې په دې کار سره د اخوان د مفکورې نامتو تیوریسن، شهید سید قطب یاد تازه کړی او د عمل په ډګر کې اخوانیت ته ژمن پاتې شوی دی.

د کمونیستانو پرمټ د داوود خان د کودتا له بریا سره د شفیق حکومت نسکور او دی ونیول شو. د ځینو لاسوندونو پر بنسټ کمونیستانو هڅې وکړې، څو دی شهید کړي. زندان ته یې ورته مار خوشې کړ، ولې الله جل جلاله وساته. لکه څرنګه چې شفیق د ژوندانه په نورو ډګرونو کې یو مخکښ انسان و، په زندان کې یې هم مورال تر ډېرو لوړ و. ننګیال بیا هم د جنرال رحمت الله صافي په حواله، چې دی هم بندي و، لیکي:«...د قدیر نورستاني د کور په پورتني پوړ کې د مارشال شاه ولیخان، شهزاده احمد شاه جان، ثمر سراج صاحبه، سردار عبدالولیخان، شهید محمد موسی شفیق، خان محمد د دفاع وزیر، عبدالحکیم خان کټوازی بندیان وو. د شپې د دفاع وزیر، خان محمد خان قلم او کاغذ وغوښت، چې محمد داوود خان ته تسلیمي ورکړي او د همکارۍ او خدمت لپاره خپل چمتوالی وښیي. شفیق، چې سر یې په روجایي کې پېچلی او پروت و، په ډېر عصبانیت راپورته شو ویې ویل: وزیر صاحب حالات ټول مجهول دي، معلومه نه ده، چې څه کېږي او ته خو باید په هېڅ صورت تسلیمي ونه کړې.

...وروسته یې موږ څلور کسان، شفیق، جنرال عبدالولي،

جنرال کټوازی او زه د قلعه جدید په نامه کوټه قلفیو کې تقسیم کړو، زموږ د دروازې یو کولپ او د شفیق دوه وو. هدف د روحي فشار و، زما فکر شفیق ته خراب و، چې هغه ملکي دی، ښايي د تکالیفو تحمل ونه لري، خو زموږ ټولو نه تکړه وخوت، د دروازې په ټک، ټک یې څوک پوه نه شول او له شپږ میاشتو وروسته د قرآن کریم د نولسو سپارو حافظ شو«.

په ١٣٥٤ل کال کې د شفیق د خلاصون خبر خپور شو، چې شفیق یې په کې په ډېر درناوي سره یاد کړی و. مرحوم داوود وخت پر وخت د مهمو مسایلو په باب له شهید شفیق سره سلا مشورې کولې. له خلاصون وروسته شفیق په حکومت کې کومه رسمي دنده نه لرله.

د ثور د اوومې له کمونیستي کودتا سره سم، چې شفیق لا په کابل کې و، د کمونیستو کودتاچیانو له خوا ونیول شو. د شفیق د شهادت په باب، صباح الدین کشککي لیکي:« شفیق له لومړنیو هغو کسانو وو، چې د ١٩٧٨م کال د اپرېل له کودتا وروسته بندي شو. دی یې د نورو پخوانیو لوړ پوړو چارو سره یوځای د دفاع وزارت په تلخونو کې تقریباً د یوې اونۍ لپاره بندي کړ. د همدې میاشتې په ٢٢ یا ٢٤ د شپې په لسو بجو یې شفیق له یو شمېر نورو بندیانو سره له ودانۍ

لسو بجو یې شفیق له یو شمېرو نورو بندیانو سره له ودانۍ
ووېست. خلیل الله، چې بیا وروسته د کارمل په رژیم کې د
جنرالۍ رتبې ته ورسېد او د دفاع وزارت مرستیال شو، کله
چې د پرچم ډلې د نورو غړو په څېر د خلقیانو په واسطه
بندي وو؛ د بندیانو په وړاندې یې اعتراف کړی و، چې ده،
شفیق د کابل په هوایي ډګر کې په تفنګچې وویشت، ګولۍ
یې د هغه په سر کې فیر کړه او له ځانه یې ورته ووېسته!«.
د شهید د شهادت په باب مختلف نظریات موجود دي. یو
شمېر بیا په دې باور دي چې شفیق د څرخي پله په دښته
کې د لوړ پوړو کمونیستو دولتي چارواکو په شتون کې په
شهادت ورسول شو. په هر صورت، دا چې، چا، کله او چېرته
شفیق په شهادت رسولی، اوس کومه د پام وړ ګټه نه کوي؛
ولې دا ټولو ته جوته ده، چې د شفیق د شهادت په ستر
جنایت کې کمونیستانو مستقیم لاس لاره. کمونیستانو په
دې خیانت سره بیا دا ثابته کړه، چې دوی د شلمې پېړۍ
حرفوي قاتلان وو، چې حتی په سیاسي بندیانو یې هم رحم نه
کاوه. ولې، نن شفیق د هر افغان په زړه کې ځای لري او
کمونیستان د دې ولس له لوري وړټل شول؛ دوی د شفیق په
ګډون یونیم ملیونه انسانان شهیدان کړل، لیکن په پای کې
د همدغو انسانانو وینو دوی هم ډوب کړل. په دې ترتیب
سره افغانستان له یوه مخلص بچی او افغانان له یوه عالم،

سره افغانستان له یوه مخلص بچي او افغانان له یوه عالم، ادیب او سیاستوال انسانه بې برخې شول. اوس دا مسؤولیت د فرهنګیانو پر اوږدو دی، چې د شفیق د اروا د ښادولو په پار دې افغان ولس ته په تېره بیا ځوان پښت ته وروپېژني، څو له یوې خوا د کمونیستانو دا جنایت هم لا روښانه شي او له بلې شفیق د یوې بېلګې سټې په توګه د نن ورځې زده کړیال ځوان ته معرفي شي.

روح یې ښاد



او یاد دې تل ژوندی وي

**اخځونه :**

۱- دا په یاد د محبت درسره واخله (د شفیق په باب څېړنه)، شهرت ننګیال، دانش خپرندویه ټولنه، پېښور، ۱۳۸۸ل؛
۲-عبقریان، شهید محمد موسی شفیق، دانش خپرندویه ټولنه، پېښور، ۱۳۸۲ل؛
۳-افغانستان د دیموکراسۍ او جمهوریت په کلونو کې، عبدالغفار فراهي، دانش خپرندویه ټولنه، پېښور، ۲۰۰۲م؛
٤-روابط سیاسي ایران و افغانستان در قرن بیستم، وحید مژده، بنګاه انتشارات میوند، پشاور، ۱۳۸۹ل؛
٥-دههٔ قانون اساسی، صباح الدین کشککی، بنګاه انتشارات میوند، پشاور، ۱۳۷۷ش؛
٦-د افغانستان پر معاصر تاریخ یو لنډه کتنه، کاندید اکاډمیسن محمد ابراهیم عطایي، میوند خپرندویه ټولنه، پېښور، ۱۳۸۳ل؛
۷-د موسی شفیق اړیېچلی اند و ژوند د یادونو په هېنداره کې(مقاله)، پوهاند مجاور احمد زیار، ټول افغان وېب پاڼه.

**لیکوال: ذاکر جلالي**